# زېری

علمي- څېړنیزه، ادبي پنځلس ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

پنځنۍ(پنجشنبه) د وږي ۱۱ - ۱۲مه ګڼه، پرله پسې (۴۵۱-۴۵۲) مه ګڼه، د ۱۴۰۴ل کال د وږي ۲۸مه، د ۱۴۴۷هـ.ق. کال د ربیع الاول ۲۵ مه او د ۲۰۲۵م.کال د سپتمبر ۱۸مه


ته له هر څه کبریا او بې نیاز یې
ما ته هم بې له تا هر څه بې نیازي را

اې د لو ورځې مالکه، مهربانه!
په ښې لاس عملنامه د ازادي را

شیخ فریدالدین محمود

## ګرامري جوړښت (۲) برخه


ژباړه او لنډیز: څېړنپوه مولا جان تڼیوال


د فونولوژۍ په برخه کې موږ دا لیدلي دي چې ژبه د فونیمونو څخه علاوه نور داسې عناصر چې فونولوژیکي ارزښت لري هم کاروي (د فونیمونو خج او ترتیب او نظم) او همدا شان په مورفولوژۍ کې هم نور عناصر چې مورفولوژیکي ارزښت ورسره دی د مورفیمونو په توګه ګټه ترې اخیستل کېږي. موږ ته په فونولوژۍ کې د دې پته ولګېده چې خج د یوه ویې فورمونه بدلولای شي. موږ به اوس دې ته ورته نور فکتونه هم وګورو: په اندو اروپايي ژبو کې دا امکان شته چې مشخصې ډلې یا ګروپونه د Reduplikationen په واسطه په نخښه کړي. د ویې په Anlaut کې (د یوه ژبني یووالي د پیل غږ د ساري په ډول د څپو د پیل غږ، د مورفیمونو د پیل غږ، د ویې د پیل غږ) د ریښې د پیل بې غږه ته د حال زمانې لپاره د (i) غږن او د perfekt لپاره د (e) غږن ورزیاتېږي، په لاتین ژبه کې د gen د ریښې څخه genui پرفیکټ جوړېږي او مناسب حال یې gi-gno (اولاد زېږول) دی. په ځینو ژبو کې د بې غږه یا ناغږنو Gemination دوه برابره کېدل مورفولوژیک رول لوبوي. د ساري په ډول په سویډن کې په لاپي (ژبه) کې vorwand پلمه د اضافت په حالت کې aga او په فاعلي حالت کې agga ده. فاعلي حالت یواځې د ریښې د ناغږن په دوه چنده کېدو سره په نخښه شوی دی.

دا د داخلي Flexion اوړون یوه بېلګه ده چې د ریښې د اوازونو په بدلون کې د ګرامري فورمونو د په نخښه کولو لپاره موجودیت لري. د دې پر ځای د واولونو ډېر زیات بدلونونه هم پیدا کېږي. په سامي ژبو کې دا فکتونه ډېر واضح او جوت دي. دلته د یوه ویې ریښه د درېو یا څلورو ناغږنو څخه جوړه شوې ده چې د اوړون په جریان کې ثابت دي او د یوه ټینګ skelett یو ډول ښکاره کوي. دلته د هر ګرامري فورم لپاره بېل واولونه ورزیاتېږي. په عربي ژبه کې د ساري په ډول (قتل) ریښه د ګردان لاندې فورمونه لري. قَتَلَ: وژلی یې و (لرې ماضي) ، یَقتلُ: وژني یې (ناتېره زمانه)، قُتِلَ: وژل شوی و (مجهوله ماضي)، یُقَتَلُ: وژل کېږي (ناتېره مجهوله زمانه). درېیمه کټګوري: قاتَلُو: جنګ یې وکړ (ماضي) ، یُقاتِلون: جنګ کوي (ناتېره زمانه)، قوتِلَ: جنګ شوی و (مجهوله ماضي)، یُقاتَلُ: جنګ کېږي (استمراري حال زمانه) د لومړي ټیپ مصدر (قَتلٌ: وژونکی (مفرد فاعلي اسم) او قاتِلون: وژونکي (جمع فاعلي اسم) دی. د واول بدلون دلته یواځینی وسیله ده چې بېلابېل ګرامري فورمونه په نخښه کوي. په دې ژبو کې د واولونو بدلون یواځې د اوړن د څرګندولو لپاره نه کارول کېږي، بلکې د هماغې ریښې څخه د بېلابېلو ویېونو د توپیر لپاره هم کار ورڅخه اخیستل کېږي او په همدې ډول د Derivation لپاره هم کارول کېږي. په عربي ژبه کې (کَتَبَ) (هغه لیکلی دی.)، (کاتب) (لیکوال)، (کتاب) (کتاب) یا (څه چې لیکل شوي دي.) د واول بدلون یو ژوندی بهیر یا جریان څرګندوي، چې د نورو ژبو څخه د اخیستل شویو ویېونو لپاره هم استعمالېږي د نمونې په ډول (رسِبُ) (رسید، بل، سزا) د اسپانوي ژبې څخه اخیستی ویی دی او جمع یې (رواسب) ده، (بابُر) (یو ډول بېړۍ‌ده چې په بخار حرکت کوي) د فرانسوي ژبې څخه اخیستل شوی ویی دی چې ډېرګړی یا جمع یې په (بوابر) جوړېږي.

داسې ښکاري چې د ارخایزم د periode پړاو په اندو اروپايي ژبو هم دې ته ورته حالت درلود، خو هغه ۲مخ

## د کلیله و دمنه پښتو ژباړې (۲) برخه


ل: پروفیسور سیال کاکړ

ژ: څېړندوی بشرمل زرغون


### (۲) د کلیله و دمنه پښتو ژباړه

ویل کېږي چې ابوالحسن هراتي کلیله و دمنه په پښتو ژباړلې وه، په دې باره کې پښتو تذکرو څه نه دي لیکلي؛ البته نوموړی پوه ښاغلی زلمی هېوادمل په (فرهنګ زبان و ادبیات پښتو)، په لسم مخ کې په دې باره کې داسې لیکي: ((...ابوالحسن هراتی یو د پښتو له لیکوالو څخه دی)).

ورپسې نوموړی د قاضي خیرالله پېښوري په حواله زیاتوي: ((...چې ملا ابوالحسن هراتي کلیه و دمنه په پښتو ژباړلې ده)).

په همدې اساس فاضل استاد ښاغلي رفیع د (دبیر دانش) په سریزه کې د دې لړۍ په حواله لنډ معلومات راوړي دي، نوموړی لیکي: ((قاضي خیرالله پېښوري د »خیراللغات «په سریزه کې کښلي دي چې ابوالحسن هراتي »کلیله و دمنه « پښتو کړې وه، د دې ترجمې په اړه تر دې زیات معلومات نشته)).

د یادې ژباړې په باره کې له دېنه زیات معلومات په لاس کې نه لرو، اړینه ده چې لیکوال او په ځانګړې توګه پښتو څېړونکي د اروابشاد ابوالحسن هراتي د کلیلې و دمنې د ژباړې په باره کې له ژورو پلټنو او څېړنو څخه کار واخلي، بویه چې یوه ورځ یې په موندلو بریالي شي.

### (۳) دبیر دانش

ښکاره ده چې د کلیلې و دمنې د ژباړې هنګامه له اروابشاد افضل خان خټکه د پښتنو پر څمکه راروانه وه، د پښتو ژبې شاعران او پوهان د دغه اخلاقي، ټولنیز او سیاسي کتاب له ارزښت او اهمیته ناخبره نه وو، همدغه ملي احساس و چې په پښتني ټولنه کې لیکوالو او شاعرانو کلیله و دمنه د پښتو نثر او نظم په جامه وژباړله او دغه اوږده لړۍ همداسې اروابشاد شادمحمدخان یوسفزي ته راورسېده.

هو!! شاد محمد خان نه یواځې رئیس او د مردان لوی خان و؛ بلکې نوموړی یو غوره شاعر او د پښتو لاسبری ژباړن هم و، ده شاعري خوښوله چې په همدې اساس یې شاعرانو او لیکوالو ته ډېر درناوی کاوه، د ده دربار د هغه وخت د شاعرانو او پوهانو دمه ځای و، د ده په کور کې به د علم او پوهې خلک راټولېدل او د علم او ادب مسایل یې سره ویل را ویل.

شاد محمد خان رښتیانی د ژوندي وجدان خاوند او بااحساسه شخص و، پوهه او پوهان یې ډېر خوښ ګڼل، له نوموړي نه څو قېمتي اثاره د نښې په توګه راپاتې دي، دیوان یې (د شاد محمدخان رئیس مردان دیوان) په نامه په دې وروستیو کلونو کې د پښتو اکاډمۍ، پېښور پوهنتون له خوا ۳مخ

## کېنټو یا کېنټوز- CANTO/ CANTUS


جاوېد افتاب


د کېنټو یا کېنټوز لغوي معنا سندره ده او په ادبي اصطلاح کې د یوه اوږد نظم یو بند ته وايي.

په دې اړه قیوم نظر لیکي: »کېنټو ایټالوي کلمه ده چې معنا یې سندره، نغمه او زړه راښکونکې موسیقي ده، خو له ډېرو پخوا زمانو څخه کله چې شعر تر ډېره د سندرو لپاره لیکل کېده، د کېنټو مفهوم د اوږدو نظمونو تر منځ وقفې یا بندونو لپاره کارېده. په انګرېزي شاعرۍ کې اکثرو سترو شاعرانو اوږده - اوږده نظمونه لیکلي دي او دا یې پر مختلفو برخو یا بندونو وېشلي دي چې هر بند ته یې یو کېنټو ویل کېږي. «(۱:۲۰۸)

ډاکټر لعل پاچا ازمون په »پښتو نظم پوهنه کې لیکلي: »کېنټوز هم د انګرېزي منظوم ادب یو داسې معنوي یا موضوعي فورم دی چې د موضوع تسلسل او ربط ساتي. د کېنټوز لغوي شننه او مخینه داسې ده چې کېنټوز د کېنټو د جمعې بڼه ده. کېنټو د نظم [یو] بند ته وايي، کېنټو له ایټالوي (Canto) او لاتیني (Cantus) نه اخیستل شوی چې مانا یې سندره ده. دغه کلمه وروسته انګرېزۍ ته راغله، کېنټوز (Cantos) د یوه انګرېزي نظم نوم دی چې د ایزر پونډ (۱۹۱۵-۱۹٦۲م.) له خوا رامنځته شو. دغه نظم ۱۱٦ بنده لرل چې نیمګړی ترې پاتې شو. دغه نظم پر ۱۹۲۲م. کال خپور شو. په شلمې پېړۍ کې دغه نظم یو نوی نظم و چې د اقتصادي، حکومتولۍ کلتور او یووالي ته یې خلک هڅول. په دې نظم کې موضوعي تسلسل ساتل کېږي، بېلابېل بندونه لري. دغه ژانر پښتو ته هاشم بابر پر خپل وره رانویستی دی.)« (۷۴۲:۲)

پروفیسور انور جمال وايي: »کېنټو هغه رزمي او بزمي نظم ته ویل کېږي چې په غنايي انداز سره وړاندې کېږي. کېنټور (CANTOR) له پخوا زمانو څخه هغه چا ته ویل کېږي چې په کلیسا کې د عبادت پر مهال د سندرغاړو د لارښوونې مسؤلیت پر غاړه لري.)« (۱۵۹:۳

### د کېنټوز عروضي جوړښت

په پښتو کې چې کوم کېنټوز را څرګند شوي دي، دوې بڼې لري:

لومړۍ بڼه یې غزل ته یو څه ورته بڼه لري، توپیر یې ورسره دا دی چې په کېنټوز کې د غزل په-څېر د مطلعې او مقطعې خیال نه-شي ساتل کېدای، خو د موضوع تسلسل ساتي. دغه بڼه د موضوع او رنګینۍ له مخې روماني خواږه لري، احساسات او جذبات په کې په شاعرانه ژبه څرګند شوي دي. په کېنټوز کې د بیتونو او بندونو شمېر ټاکلی نه دی. بېلګه یې:

لنډه راله راغللې
لنډه غونډې ساه شومه
نه درته در وړاندې شومه
نه درنه په شا شومه
ځان ته څه په طمع وم
نور له تا نه لا شومه
اصل کې کښې هر څه که وم
خیال کښې ښائستا شومه
زه په جولاګانو کښې
بل شانې جولا شومه (۷۴۲:۲)

د کېنټوز دویمه بڼه داسې ده چې هر بند یې څلور هموزنه مسرې لري، کله - کله په لومړي بند کې وي او کله نه. بیا ورپسې د هر بند وړې مسرې د قافیې له قیده آزادې خو هموزنه وي، څلورمه مسره یې بیا د لومړي بند له وروستۍ مسرې سره همقافیه ۳مخ

## روانپوهنیزه ژبپوهنه (Psycholinguistics)


څېړندوی
محمد اتل انګار


ژبپوهنه هغه علم دی چې د ژبې داخلي جوړښت څېړي یا »ژبپوهنه د ژبې څېړلو او مطالعه کولو پوهنه ده، مرژواندې او په راتلونکې کې پیداکېدونکې ژبې ورباندې څېړل کېږي.« (لودین، ۱۳۹۵: ۷مخ) یا په بله وینا: »هغه علم چې ژبه، د هغې څرنګوالی او داسې نورې راز راز ژبنۍ مسئلې څېړي، ژبپوهنه بلل کېږي. د ژبپوهنې نړیوال نوم لینګوستیک (Linguistic) دی چې لینګوه (Lingua) د ژبې او استیکه (Istica) د پوهنې معنا لري. ژبپوهنه هغه علم دی چې د ژبو جوړښت او ځانګړتیاوې د معاصرو میتودونو پر اساس په یوې ټاکلې مرحله کې مطالعه کوي. «(غوربندی، ۱۳۹۷: ۳۳مخ) ژبپوهنې ته ډاکټر سمندر یوسفزی ساینسي مطالعه وايي: »د ژبپوهنې غرض او مقصد د ژبې ساینسي مطالعه کول وي، ساینسي مطالعه ورته ځکه وايي چې انساني ژبه چې څنګه ده چې هم هغسې مطالعه شي او د مختلفو اړخونو یې په بشپړه توګه احاطه وشي، د هر قسمه احساساتو، جذباتو او خوښۍ نا خوښۍ نه پکښې ډډه وشي، انساني ژبه هم هغسې مطالعه شي لکه څنګه چې د ساینس په میدان کې مختلف څېزونه تجزیه کېږي. «(یوسفزی، ۲۰۲۲: ۳۷ مخ) د ډاکټر رفیع الله نیازي په قول: »ژبپوهنه هغه پوهه ده چې د معاصرو علومو او روشونو پر بنسټ د ژبې ماهیت او څرنګوالی څېړي او د بېلابېلو ژبو کورنۍ چې په خپلو کې اړیکې سره لري، د هغوی تاریخي بدلونونه او ډلبندۍ یې څېړي. « (نیازی (کابل مجله)، ۱۳۹۴: ٦ګڼه، ٦۰ مخ)

له دې ټولو پېژندنو څخه دا پایله په لاس راځي چې ژبپوهنه د ژبې داخلي جوړښت، ځانګړنې، راز راز ژبني مسایل، د ژبې ماهیت او څرنګوالی د معاصرو علومو او روشونو پر بنسټ څېړي. ژبپوهنه په لویه کې دوه برخې لري چې یوې ته یې تطبیقي ژبپوهنه (Applied Linguistics) او بلې ته یې نظري ژبپوهنه (Theoretical Linguistics) وايي. دا چې روانپوهنیزه ژبپوهنه د تطبیقي ژبپوهنې له څانګو څخه یوه څانګه ده نو اړینه ده چې تطبیقي ژبپوهنه هم څه نا څه وپېژنو.

ژبپوهان تطبیقي ژبپوهنې ته څو نومونه نور هم اخلي، یو خو یې په عموم کې ماکرو ژبپوهنه (Macro Linguistics) هم بولي او بیا دا ژبپوهنه د مستعملې ژبپوهنې په نوم هم یادېږي، دا ځکه چې په دې ډول ژبپوهنه کې ژبه په لویه پیمانه څېړل کېږي، یعنې دا کتل کېږي چې ژبه له خپل ذات څخه بهر له کومو علومو سره اړیکه لري، په دې اړه ډاکټر یوسفزی داسې لیکي: »په ماکرو لینګوسټکس کې ژبه په لویه پیمانه کتلی کېږي، چې ژبه د خپل ذات نه بهر د کومو څیزونو علمونو سره علاقه لري، کوم چې په ژبه اثر غورځوي، لکه تاریخ، ټولنه، کلتور، نفسیات وغیره خو که موږ په مختصرو لفظونو کې خبره کوو نو چې په ژبه کې دننه څه هم وي هغه په مایکرو یعنې نظري ژبپوهنه کې راځي او کوم چې د ژبې نه بهر دي او د ژبې ورسره تعلق وي هغې ته ماکرو ژبپوهنه وايي. «(یوسفزی، ۲۰۲۲: ٦۴-٦۳ مخونه)

تطبیقي ژبپوهنه د ژبې له بهرنیو مسایلو سره ۲مخ

## روانپوهنيزه (نفسياتي)...

کار لري. ډاکټـــــــر نيازی ليکي: »هغه مواد او معلومات چې نظري ژبپوهنه يې د ژبې د تدريس او د تدريس د نورو هغو موضوعاتو لکه: د ژبې ګرامر، املا او انشا، متونو او نورو لپاره برابروي ترې ګټه اخلي. «(کابل مجله، ١٣٩٤: ٦ګڼه، ٦١ مخ)

د تطبيقي ژبپوهنې په اړه ډاکټر اورمړ داسې ليکي: »د ژبنيو مسايلو د حل او روښانه کولو لپاره د ژبپوهنې په اړه د نظريو، ميتودونو او موندنو له کارولو څخه عبارت ده چې په نورو تجربي حوزو کې ايجاد شوي دي. د تطبيقي ژبپوهنې قلمرو ډېر پراخ دی او د بهرنيو ژبو له زده کولو او ور زده کولو، د ژبې د تدريس په ساحه کې د اړوندو موضوعاتو د تدريس لکه د ژبې ګرامر، املا، انشا، متونو او نورو څخه استفاده کوي، همدارنګه ژبني اختلالات، ژباړه او تفسير، فرهنګ ليکنه، سبک پېژندنه، د وينا تحليل او د لوستلو ميتود په ځان کې رانغاړي. تطبيقي ژبپوهنه په نظري ژبپوهنه باندې ولاړه ده او د ژبې له نظري مطالعاتو څخه پرته منځ ته نه شي راتللای. «(کابل مجله، ١٣٩١: ٢-١ګڼه، ٩٧ مخ)

د ډاکټر اورمړ په نظر کې يوه برخه د غور وړ ده چې تطبيقي ژبپوهنه له نظري مطالعاتو څخه پرته منځته نه شي راتللای. نو ويلای شو چې د تطبيقي ژبپوهنې د استفادې لپاره بايد نظري ژبپوهنه موجوده وي. تطبيقي ژبپوهنه ګڼې څانګې لري چې يوه له هغو څخه روانپوهنيزه ژبپوهنه ده، د ژبپوهنې په اړه مو لږ او ډېر بحث و کاوه اوس به راشو دې ته چې روانپوهنه څه ده او بيا روانپوهنيزه ژبپوهنه څه ډول ژبپوهنه ده؟

«د ارواپوهنې يا Psychology کلمه په مستقيمه توګه له يوې يوناني اصطلاح څخه اخيستل شوې ده، دغه اصطلاح له دوو کلمو څخه چې انګليسي بڼه يې Psyche او Logos ده، جوړه شوې چې (د روح مطالعې) يا په انګليسي- کې Study of soul معنا ورکوي... اروا پوهنه د انسان د سلوک، رفتار، چال چلند او ذهني عمليو علمي او تحليلي مطالعه ده. ارواپوهنه د ځان پېژندنې، بل پېژندنې او له ټولنې او چاپېريال سره د جوړجاړي يوه داسې مهمه کيلي ده چې له موږ سره د خپلو فعاليتونو په سمون د ناخوښو او ناسمو غبرکونونو په بدلون او د يوه سالم او متوازن شخصيت په وده کې مرسته کوي. «(کابل مجله، ١٤٠٣: ١ګڼه، ٦-٥ مخونه)

«که چېرې د اروپوهنې همدغه سپيناوی ونغوړو، نو بيا يې د نومونې په اړه ځينې مسايل لږ دقت غواړي او دا خبره به بيا ډېره منطقي نه وي چې اروپوهنه د انسان د روح مطالعې يا له روح سره تړښت ته وايي، ځکه لومړی خو انساني ټولنه په دې حد کې نه ده چې د يو چا د روح په اړه څېړنه او سپړنه وکړي او دويم د روح واک او ځواک له موږ سره نه دی، نو ځکه موږ د انسان روح نه؛ بلکې روان يا چال او چلند مطالعه کوو او بيا يې د شخصيتي بريد پولې ټاکو. «(کابل مجله، ١٤٠٣: ١ګڼه، ٦ مخ)

اروپوهنه د انسان د سلوک، چال چلند او ذهني عمليو علمي مطالعه ده، معنا دا چې هم ځان درباندې پېژني او هم بل؛ خو داسې چې له خوښې او ناخوښې يې واخله، تر ذوق او فرهنګي ټکرونو پورې ټول يې درته په مخ کېږي او همدا مسايل انسان د ځينو موضوعاتو په اړه په خپل ذهن کې قضاوتونو ته اړ باسي چې ښايي ډېر ځله سم هم وي خو سل په سله زباتونه يې د تأمل وړ ده. (کابل مجله، ١٤٠٣: ١ګڼه، ٤ مخ)

د روانپوهنې په پېژندنې هم پوه شولو اوس به راشو خپلې آرې موخې ته چې روانپوهنيزه ژبپوهنه ده، روانپوهنيزه ژبپوهنه (Psycholinguistics) د ژبپوهنې او روانپوهنې تر منځ يوه څنګزنه علمي برخه ده چې د ژبې ذهني، عصبي، او رواني بهيرونه څېړي. دا علم دا ارزوي چې انسان ژبه څنګه زده کوي، پروسس کوي، ذخيره کوي، او کاروي يې، يعنې ژبه زموږ په ذهن، مغز او فکري سيستم کې څه ډول عمل کوي. يا په بل عبارت: روانپوهنيزه ژبپوهنه د ژبپوهنې له مهمو څانګو څخه ده چې د ژبې او رواني بهيرونو اړيکې څېړي. دا څانګه د دې هڅه کوي چې وښيي انسان څنګه د ژبې زده‌کړه کوي، څنګه يې په ورځني ژوند کې کاروي او د ذهن په دننه کې د ژبني پروسو پر مهال څه ډول رواني فعاليتونه ترسره کېږي. ژبه يوازې د خبرو وسيله نه ده، بلکې د انسان د فکر، شعور، حافظې او احساساتو يوه ستره برخه ده، نو ځکه د ژبې په اړه هر ډول څېړنه په مستقيم يا غيرمستقيم ډول د روان د څېړنې اړخونه هم په ځان کې رانغاړي. روانپوهنيزه ژبپوهنه (Psycholinguistics) د ژبپوهنې او روانپوهنې ګډه څانګه ده چې د ژبې د توليد، درک، زده‌کړې او کارونې تر شا پر رواني او عصبي بهيرونو تمرکز کوي. دا څانګه په دې هڅه کې ده چې وښيي ژبه يوازې يو ټولنيز جوړښت نه دی، بلکې د انسان د فکري فعاليت يوه ژوره او پېچلې برخه ده. له همدې امله، روانپوهنيزه ژبپوهنه د ژبپوهنې له نورو څانګو سره توپير لري، ځکه چې دلته د ژبې څېړنه يوازې د بڼې او قاعدو له مخې نه ترسره کېږي، بلکې د ذهن او مغز د فعاليتونو تر کچې ژورېږي. ډاکټر اورمړ يې په اړه ليکي: »اروايي ژبپوهنه د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې د ژبني سلوک او د ذهني مهارتونو او پروسو ترمنځ متقابله رابطه چې د سلوک بنسټ او زېربنا ګڼل کېږي، مطالعه کوي. مخکې ورته د ژبې اروپوهنه ويل کېده. «(کابل مجله، ١٣٩١: ١-٢ګڼه، ١٠١ مخ)

ډاکټر يوسفزی ليکي: »نفسياتي ژبپوهنه د ماکرو ژبپوهنې هغه څانګه ده په کوم کې چې د ژبې او دماغو ترمنځه د اړيکو، رشتو او رابطو په حواله بحث کېږي چې آيا د ژبې او د دماغو يعنې سوچ او فکر ترمنځه څه تعلق شته او که نه، ژبه او هغه ځايونه او اندامونه د کومو په ذريعه چې غږونه پيدا کېږي د هغې په شان سوچ او فکر څه عمل دخل لري که نه يا لفظونو او جملو له په دماغو کې ترتيب څنګه ورکړی کېږي، يا يو ماشوم په کومو اصولو خپله او پردۍ ژبه زده کوي، ځکه نو موږ ويلی شو چې هغه ټول عوامل کوم چې د ژبې او د نفسياتو ترمنځ تعلق ساتي د نفسياتي ژبپوهنې په دايره کې راځي.« (يوسفزی، ٢٠٢٢: ٦٤ مخ)

په روانپوهنيزه ژبپوهنه کې د ماشوم د ژبې وده يو له مهمو موضوعاتو څخه ده. د ماشوم لومړني غږونه، د مور غږ ته عکس‌العمل، د کلمو پېژندل، د جملو جوړښت درک کول او وروسته بيا د معنايي اړيکو جوړول هغه مرحلې دي چې روانپوهنيزه ژبپوهنه يې څېړي. د بېلګې په توګه، څېړنې ښيي چې ماشوم د ژوند په لومړيو مياشتو کې د ژبې د ټولو غږونو د اورېدو وړتيا لري، خو وروسته يوازې د خپلې مورنۍ ژبې غږونه ښه پېژني. دا پخپله يو روانپوهنيز بهير دی چې د مغز د وړتياوو او تجربو په تعامل کې رامنځته کېږي. د نــوام چامســـــکي (Noam Chomsky) د "ژبنۍ وړتيا" ( linguistic competence) تيوري د دې څانګې په پرمختګ ژوره اغېزه کړې ده. چامسکي استدلال کوي چې انسانان د ژبې د زده‌کړې فطري وړتيا لري او د ماشوم ذهن د يوې "ژبنۍ وسيلې" ( Language Acquisition Device) لرونکی دی. په مقابل کې، د بی. اف. سکينر (B. F. Skinner) په څېر د چلند پوهانو (behaviorists) په باور، د ژبې زده‌کړه يوازې د محرک (stimulus) او ځـــــواب (response) د اړيکې له لارې ممکنه ده. روانپوهنيزه ژبپوهنه هڅه کوي چې د دغو نظريو ترمنځ پُل جوړ کړي او د ژبنۍ ودې د حقيقي بهير وضاحت وکړي. په دې اړه ډاکټر رضا باطني ليکي: »له هغه ځايه چې ژبه د انسان يو فعاليت دی، يعنې د هغه د کړو يوه برخه ده، روانپوهنه پر هغې پام کوي او هغه د ژبني کړو (Verbal behavior) په نوم يادوي. خو د روانپوهنې پام ژبې ته يوازې له دې اړخه نه دی چې ژبه د انسان يو ډول فعاليت دی، بلکې له دې اړخه يې ورته ډېر پام دی چې ژبه د انسان د ذهن د عالي فعاليتونو بنسټ دی او دا فعاليتونه لکه: تفکر، استدلال، تخيل، قضاوت او حتا ادراک او عواطف هم دي. د انسان کړه له ژويو سره توپير لري، نه يوازې د دې لپاره چې انسان خبرې کولای شي او ژوي دا کار نه شي کولای، بلکې د دې لپاره چې د انسان په ذهن کې ځانګړي فعاليتونه شته چې ژبه د هغو په روزنه او راسپړنه کې په يو ډول نه يو ډول دخيله ده. ځکه نو ژبه سربېره پر دې چې خپله يو ډول کړنه ده او روانپوهنه هغه په خپله کاري ساحه کې مطالعه کوي، د دې مطالعه کولای شي چې د ذهني فعاليتونو له رازونو او رمزونو څخه د خلاصون يوه کيلي وي .«(باطني، ١٤٠٣: ١٢٦ مخ)

په روانپوهنيزه ژبپوهنه کې د حافظې او ادراک رول ډېر بنسټيز دی. کله چې يو څوک خبرې اوري، نو يوازې غږونه نه اوري، بلکې مغز يې ژر تر ژره په کلمو بدلوي، د هغو ترمنځ اړيکه جوړوي او معنا ترې اخلي. دا عمل د څو ثانيو په يوه برخه کې ترسره کېږي، خو تر شا يې پېچلي رواني او عصبي بهيرونه ولاړ دي. همدارنګه، کله چې يو څوک خبرې کوي، ذهن بايد لومړی د خپلې حافظې له زيرمې څخه کلمې راواخلي، هغه د جملې په جوړښت کې ځای پر ځای کړي او په نهايت کې يې په فزيکي ډول د خولې د غړو په مرسته توليد کړي.

### مأخذونه


١. لودين، دولت محمد. د عمومي ژبپوهنې مسايل، ختيځ خپرندويه ټولنه: جلال اباد، ١٣٩٥ل.

٢. باطني، محمد رضا. زبان و تفکر، چاپ شانزدهم، نشر آګه: ايران، ١٤٠٣ش.

٣. غوربندی، ميراجان. د ژبپوهنې مبادي، جهان دانش خپرندويه ټولنه: کابل، ١٣٩٧ل.

٤. اکرام، بشرى. ژبپوهنه، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون: پېښور، ٢٠١٨ز.

٥. اورمړ، خليل الله. ژبپوهنه ، کابل مجله (٢-١ ګڼه) ، د افغانستان د علومو اکاډمی د اطلاعاتو او عامه اړيکو مرکز: کابل، ١٣٩١ل.

٦. نيازی، رفيع الله. ژبپوهنه او د هغې څانګې، کابل مجله (٦ ګڼه)، د افغانستان د علومو اکاډمی د اطلاعاتو او عامه اړيکو مرکز: کابل، ١٣٩٤ل.

٧. يوسفزی، سمندر. بنيادي ژبپوهنه، اعتراف پرنټرز: پېښور، ٢٠٢٢ز.

٨. سيدي، سيد نظيم. د کيسه ييزو ادبياتو روانپوهنيزه څېړنه، کابل مجله (١ ګڼه)، د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست، ستاره همت مطبعه: کابل، ١٤٠٣ل.


## ګرامري جوړښت...

متون چې موږ يې په دې ژبو کې لرو داسې يو روښانه stadium وړاندې کوي چې په هغه کې د غږ يا اواز بدلون نور د ګردان د په نخښه کولو يواځينی ډول نه دی، بلکې د وروستاړي او endungen په واسطه سره ترکيب کېږي. په يوناني ژبه کې د leipo (د يو ځای څخه وتل، پرېښودل) لنډه ماضي le- loipa په دوه چنده کولو سره او په همدې ډول د وخت فورم e- lipon د مطلقې ماضي په منځ کې ووکاليزم يواځنی توپير رامنځته کوي. په جرمني ژبه کې ich singe زه سندرې وايم په تېره زمانه کې ما سندرې ووې او ما سندرې ويلې دي خو د wir singen موږ سندرې وايو او wir sangen موږ سندرې وويلې په منځ کې يواځې د ريښې ووکاليزم توپير په ګوته کوي.

په همدې ډول په انګرېزي ژبه کې د I sing نورې زماني بڼې I sang او I sung دي په روسي ژبه کې هم دا ډول حالتونه شته. په جرمني او انګرېزي دواړو ژبو کې قوي کړونه د Ablaut په واسطه په نخښه شوي او پېژندل شوي دي د Ablaut لړۍ يو ډول سيستم جوړوي. Ablaut يا د واول بدلون نن ورځ په اندو اروپايي ژبو کې نوره د اوړون توليدونکې وسيله نه ده، هغه څه چې سړی يې د بېلګو په توګه يادولای شي د يوه زاړه سيستم پاتې شوي دي. نوي جوړ شوي يا اخيستل شوي کړونه دغه وسيله نوره نه کاروي. بالاخره (دا ويلی شو) چې د وينو موقعيت او ځآی پر ځای کول د دندو د پېژندلو او په نخښه کولو يوه وسيله ده. په هغو ژبو کې چې پياوړی پرمختللی اوړون لري Endungen د وييونو ترمنځ اړيکه په واضح ډول څرګندوي. هغه ژبې چې gering لږ اوړون لري په غونډله کې د وييونو موقعيت داسې لانجمن درج شوی دی چې د هر يوه ويي ګرامري دنده په غونډله کې د هغه د ځآی يا موقعيت په ذريعه ياده شوې ده، د ساري په ډول سړی کولای شي په لاتين ژبه کې دا غونډله (پېټر پاول وهي.) petrus caidet paulum او يا هم paulum caidet petrus ووايي. دلته فاعل هماغه يو ويی و، چې د Endung په توګه يې -us درلود او مفعول يې چې د um پای يا Endung يې درلود د ويي په موقعيت پورې نه و تړلی.

د دې څېړنې يا څېړکي په يوه برخه کې اوړون او ويي جوړونه ډېرې وخت په ګډه يا يو ځای مطرح شوي دي. دا دواړه برخې يوه د بلې څخه بېلې نه دي، بلکې په ډېر نيږدې اتصال کې ولاړې دي. په لومړۍ ليکه کې بايد چې هر نوی ويی چې په يوه ژبه کې جوړېږي او يا د بلې ژبې څخه اخيستل شوی ويی په يوه ګرامري کټګورۍ کې وشمېرل شي او په يوه مورفولوژيکي Typ ټيپ کې چې موجوديت لري منظم او مرتب شي. د ساري په ډول کله چې د Ansager ويانـد، اعلان کوونکی، ويونکی ويی جوړ شو په هغه ډله اسمونو کې چې په Genetiv مفرد او Dativ جمـــــع کې د Endung خاصيت لري مرتب شوی دی ځکه چې د Lehrer ښوونکي غونډې ګردان کېږي. په دويمه ليکه کې وروستاړي چې وييونه ورباندې جوړېږي د وييونو په ټولو کټګوريو کې کارول کېږي او دا دقيقاً داسې څه دي لکه Endungen او هغه وروستاړي چې د کړونو لومړي شخص په e- سره جوړي د er- د ورستاړي په وسيله د ډېرو کړونو څخه اسمونه (نومونه) جوړېږي لکه Arbeiter کارکوونکی له arbeiten کار کول، Lehrer ښوونکی له lehren درس ورکول، تدريس کول، Jaeger ښکاري له Jagen ښکار کول او verkaeufer پلورونکی لـــــه verkaufen پلورل، خرڅول څخه او داسې نور.

> په همدې ډول په انګرېزي ژبه کې د I sing نورې زماني بڼې I sang او I sung دي په روسي ژبه کې هم دا ډول حالتونه شته. په جرمني او انګرېزي دواړو ژبو کې قوي کړونه د Ablaut په واسطه په نخښه شوي او پېژندل شوي دي د Ablaut لړۍ يو ډول سيستم جوړوي.

داسې يوه تيوري شته او دا اثباتوي چې د kasus فورمونه د تغيير څخه لاس ته راځي. د تغيير او kasus حالت ترمنځ تر ننه پورې ډېرې پخې اړيکې موجودې دي. دا فکر کېدای شي چې د حالت د يوه فورم او همدا شان د يوه بدلون په ذريعه ښکاره او جوت شي baeuerlichesleben د بزګرۍ يا دهقانۍ ژوند داسې دی لکه bauernleben د بزګرانو ژوند او په ځينو حالتونو کې لــــــکه leben der bauern د بزګرانو ژوند. په څنډنه يا زړه لاتين کې د مشر يا ښاغلي زوی Filius eri او filieu erilis نومېده او دا وروستی ويی د erus (ښاغلي، مشر) ستاينوم څخه اخيستل شوی دی. داسې ژبې هم شته چې په هغوی کې د Genitiv پر ځای په سيستماتيک ډول يو متغير ستاينوم پيدا کېدای شي، د مسليانو په ژبه کې پلار ته dada وايي. د پلار dadesko مونثه بڼه يې dadeski د يوه ستاينوميز وروستاړي په راوړلو سره جوړېږي. هغه څه چې له دې څخه لاس ته راځي دا دي چې د جنس يا نوري له مخې بېلابېل فورمونه موجوديت لري. په همدې ډول همدا د مسليانو په ژبه کې د پلار اس odadesko grai او د پلار stute اسپه idadeski grasni نومېږي. په څرګنده توګه دا اوړون ډېر ځنډن نه دی او کوم ابتدايي پړاو يا مرحله نه معرفي کوي، بلکې نسبتاً وروسته جوړ شوی دی، خو دا اوړون موږ ته دا راښيي چې څنګه Ableitungen تغييرات د kasus په فورمونو اوښتی شي، دلته د ټولو يادو شويو اساساتو له مخې بايد چې ويي جوړونې ته د مورفولوژي سره په ډېر نيږدې اتصال کې پاملرنه وشي.

### لمنليکونه

١. د انساني کلتور ډېر ځنډن وخت. د يونانيانو او روميانو ځانګړی وخت چې تر ميلاد وړاندې اوومې پېړۍ څخه تر پنځمې ميلادي پېړۍ پورې وخت په بر کې نيسي.

٢. لاتين يا لاتيني نومونه ده.

٣. يوناني- لاتين نومونه ده. د ټاکليو موازينو او اصولو په اساس ليکلو ته وايي.

٤. Endogen: دا د فعلونو هغو وروستيو برخو ته ويل کېږي چې د اشخاصو او د هغو نوړی او شمېر ښيي. چې په ځينو ګرامرونو ورته متصل ضمير کلمه هم کارول کېږي.

٥. له اره لاتين نومونه او د Modus جمع ده. د فعل د بيان ډول ته وايي، د فعل ګرامري کټګوري ده او د يو څه د واقع کېدو ډول په ګوته کوي.

٦. د Tempus جمع او لاتين نومونه ده، د فعل زماني بڼې ته وايي.

٧. حالت ته وايي، واقعې ته هـــــــــم وايي او لاتين نومونه ده.

٨. لاتين نومونه ده چې د بختور، نېکمرغه او په خير سره معنا لري.

٩. د يوه ويي يا يوې څپې لومړي غږ يا اواز ته وايي، دا اصطلاح يا نومونه د Jacob Grimm له خوا په ١٨١٩ کې رامخې ته شوې ده، داسې ښکاري چې د جرمني سره ډېره لګوي.

١٠. يوناني ويی دی.

١١. resibo

١٢. ruaseb

١٣. babor

١٤. buaber

١٥. د پړاو يا مرحـــــــــــــــلې معنا لري، له اره يوناني- لاتين نومونه ده. موږ د لوبو ځای يا لوبغالی په دې نوم يادوو، خو دا سمه او درسته خبره نه ده، لوبغالي ته stadium وايي چې له اره د يوناني ژبې يو ويی دی. (پای)

## د کلیله و دمنه پښتو ژباړې...

د ډاکتر سید عظیم شاه خیال بخاري په عالمانه سریزه چاپ شوی دی، ده (معراج النبوة) چې په پارسي ژبه و؛ په پښتو نظم ژباړلی او نوم یې (معراجنامه) پرې ایښی دی، نوموړي کلیله و دمنه له (انوار سهیلي) نه د (دبیر دانش) په نامه ژباړلی چې په لاندې کرښو کې به سره پرتله شي.

ویل کېږي چې شاد محمد خان یو زبده شاعر و؛ نو په همدې اساس د پښتو دغه شاعر »کلیله و دمنه «په »۱۳۰۸ هـ ق، ۱۸۹۰ ز «په ښکلي انداز د نظم په بڼه اوډلې ده چې په همدې اړه د »دبیر دانش «په اخره کې دی په خپله داسې وایي: ((شکر- شکر چې په خیر سره کتاب په ما ختم کړ، په نظم پاک تواب هجري سن و دیارلس سوه اته نور، سن عیسوي نوي اتلس سوه خور او تاریخ و اووه ویشتم، وخت مازیگر، د ربیع الثاني مه کې شه تر سر او په ورځ د پنجشنبې او د زیارت دا کتاب واړه تمام شه سلامت)).

نوموړي د خپل استاد ارواښاد مولانا محمد رفیق اکبرپوري او نورو خلکو په غوښتنه دغه هندي شهکار »کلیله و دمنه «په پښتو وژباړه چې په همدې اړه شاد محمد خان له حمد و ثنا وروسته د »دبیر دانش « په پیل کې د »سبب د تصنیف د کتاب د نظم «تر سرلیک لاندې داسې بیتونه راوړي دي:

یوه ورځ و د استاد په لاس کتاب
په مضمون یې کړم خبر د هر هر باب
څوارلس بابه وو په شمار عجب رنگین
کُل مطلب پکې د عقل ښه سنگین
خیال مې وشه چې پښتو کړم دا کتاب
چې ترې لرې د پارسي کړمه حجاب
چې دماغ د پښتنو پرې معطر شي
چې خبر یې له مطله سراسر شي
یو باعث پر ما استاد شه څو هم نور
چې پښتو کړه دا کتاب د زړه په زور
چې حاصله ترېنه نفع افغانان کړي
په دعا به دې هم یاد سره تر ځان کړي
پس له مرگه به دې پاتې هم یادگار شي
خصوصاً د پښتنو به هم پکار شي

د پورتنۍ وینا په اساس شادمحمدخان د استاد او د یو څو نورو خلکو په غوښتنه کلیله و دمنه له »انوار سهیلي «څخه په پښتو چې په پارسي ژباړل شوې وه؛ له هغې ښکلې ژباړې څخه یې د پښتنو په ملي ژبه د نظم په جامه کې وژباړله، د ده په اند د کلیلې و دمنې دغه ژباړه به افغانانو ته ښه تمامه شي.

دبیر دانش د ړومبي ځل لپاره پښتو اکاډمۍ، پېښور پوهنتون په »۱۹۹۳ ز «کې په دوو ټټو، په سپین کاغذ کې خپور کړی دی؛ یعنې مجلد او غیرمجلد، قېمت یې »۳۳۰ «روپۍ او د زده کوونکو لپاره »۳۰۰ «روپۍ دی، دغه درونډ کتاب چې »۱۱۲۰ «پاڼې لري؛ ښاغلي استاد رفیع پرې یوه عالمانه سریزه لیکلې ده چې په رښتیا د یوې سریزې حق یې ښه ادا کړی دی، په دې اړه یې زیارکښنه د ستاینې وړ ده.

هو!! دبیردانش ته د استاد رفیع سریزې نوی ژوند او بېل انداز وربښلی دی، نوموړي د مهاجرت د ژوند په دې لاره کې ډېر زیات زیار کښلی او ډېر زیات کړاوونه یې تېر کړي دي، دغه سریزه د یوې نښې په توگه چې »٦٦ «مخه ده؛ یاد څېړونکي پښتو ادبیاتو تاریخ ته لوړ مقام ښښلی، له دې پرته استاد رفیع د یاد کتاب حواشي هم لیکلي، دهٔ د کتاب په اخره کې د دغو سرلیکونو: د آیتونو، حدیثونو او مقولو لارښود، متلونه، محاورې او اصطلاحات، نومونه او ویینو په راوړلو سره د دبیر دانش ټول اړخونه او بنې شنلي او څېړلي دي، په حقیقت کې د دبیر دانش نښلونې (ملحقات) چې »۹٦ «مخه دي؛ استاد رفیع د زړه په وینو تیارې کړې دي، په رښتیا چې پښتو ژبې د استاد رفیع ډېر پوروړې دي.

(دبیر دانش) چې شادمحمدخان (۱۸۹۹ ز مړ) په پښتو نظم اوډلی دی؛ څلور څپرکي او »۱۱۳۲۲ « بیته لري، د خطي نسخې لیک(خط) د ارواښاد مولیٰنا محمدرفیق اکبرپوري دی، ښاغلي استاد رفیع د خطي نسخې ځانگړنې په دې ډول کښلې دي: ((...دا نسخه ۷۸۳ مخونه لري، په هر مخ کې ۱۵ کرښې او د متن کچه یې ۲۴X۱۴ سم ده، د کتابت کال نه لري؛ خو ښکاري داسې چې د تألیف له کال سره جوخت لیکل شوې وي)).

یاد استاد د (دبیر دانش) شعر په اړوند خپل نظر داسې څرگند کړی دی: ((....د دبیر دانش شاعري تر ډېره حده درنه، پېچلې، مغلقه، له تکلفه ډکه او په زور قافیه بندي شوې چې حتا کله کله یې درنې گرامري گډوډۍ او تېروتنې رامنځته کړې دي او مفهوم یې گونگ کړی دی)).

په هر حال!! (دبیر دانش) د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې لوړ مقام لري او شادمحمدخان په دې لاره کې ډېر زیات کړاوونه تېر کړي او د (کلیلې و دمنې) حکایات یې د پښتو ژبو لپاره په ډېرې ښې طریقې ورپېژندلي دي، تر کومه چې په ادبي نړۍ کې د (کلیلې و دمنې) یادونه کېږي؛ نو د مردان رئیس شادمحمدخان نوم به هم ژوندی وي، د (دبیر دانش) پای په دغو ټکو کې پای ته رسېدلی دی: ((هذه النسخة المیمونة المبارکة برحمته "انوار سهیلي" بزبان افغانی المسمی به "دبیر دانش" من تصانیف عالیجاه جناب شادمحمدخان صاحب جلیل المراتب رئیس قصبهٔ مردان مد ظلکم والسلام)).

په اخره کې د دبیر دانش یو څو پښتو شعرونه د بېلگې په توگه ستاسې درانه حضور ته وړاندې کېږي:

دا مثال مې راوړ څکه چې معلوم شي
چې دا خیال د هر یو کس د زړه معدوم شي
چې بې سعې، بې کوششه هر یو کار
حاصلوالی دی په مثل پښه د مار
چې څوک تېره سختي نه کړي د سفر
د مقصود په لاس به نه راوړي گوهر
قصد د علم مې د زړه پر سر زرغون دی
خواه مخواه څمه سفر راته گلگون دی
چې په نېت د پادشاه پوه شول وزیران
د سفر یې ور له زر جوړ کړ سامان
پس له دې نه پادشاه وغوښت یو وزیر
ښه یې وکړ ورته دا رنگې تقریر
ته زما په ځای کوه اوس پادشاهت
پرورش مې ډېر کوه د رعیت
* * *
رضامند ساته ماتحت او امیران
چې خپه درنه هم نه شي وزیران
اتفاق لره سره د دوی همدم
چې له غم د سلطنت اوسې بېغم
* * *
چې د مراد گوهر دې کښېوځي په لاس
په ساتنه کې یې ډېر کوه وسواس
ببرته نه راځي اوبه له ورخه تېرې
که ژړا ورپسې وکاندي څوک ډېرې
* * *
هسې رنگې دی حدیث د پاک سرور
دی سفر وسیله لویه د ظفر
خواه مخواه څم روانېږم دا مې نېت دی
تا دې خدای دلته لرې زما رخصت دی
بیا دا هسې ورته وې نوا زندې
راشه واوره په غوږونو بازندې
په سفر کې دي سختۍ له حده ډېرې
خوشحالۍ به درنه ټولې کاندي هېرې
زما واوره راشه مه ځه په سفر
اخر لاړه بازنده شوله په پر
د یو لوی غره په لمن کې دا ډېره شوه
زر تر زره یو سختي ورته ښکاره شوه
دمه نه وه چې اخته شوه په ځان
چې پرې راغله سیلۍ، ږلۍ، باران

## (۴) انوار سهیلي

د پښتو په ادبي نړۍ کې میا محمدعبدالغفور قاسمي څلورم لیکوال دی چې د سوات حاکم میاگل عبدالودود په امر یې »انوار سهیلي «په پښتو د نثر په بڼه وژباړهٔ، دا څکه چې د سوات پادشاه د پښتو ژبې او ادبیاتو پلوی و چې په همدې اساس د نوموړي په دوره کې څو کتابونه په پښتو ولیکل او وژباړل شول چې له دغو نه: تاریخ فرشته، انوار سهیلي، تاریخ سوات، فتاوای ودودیه یې د یادونې وړ دي.

ښکاره ده چې له لرغونو زمانو راهیسې کلیلې و دمنې د افغان پر ځمکه ډېر زیات مینه وال درلودل چې د همدغې اړتیا له مخې انوار سهیلي په پښتو وژباړل شو، د ړومبي ځل لپاره دغه ارزښتمن کتاب په »۱۹۴۳ ز «خپور شو، ورپسې د خلکو د غوښتنې په اساس دغه نه پناکېدونکی اثر درې ځلې چاپ شو او څلورم چاپ یې په »۲۰۰۷ ز «د کب په میاشت کې شوی دی.

میا محمدعبدالغفور قاسمي د پښتو یو غوره لیکوال دی، نوموړي په ځانگړې مینې او بېل انداز انوار سهیلي په پښتو وژباړه، د د یاد کتاب مطالب په رواني، ساده او خوږې ژبې بیان او وژباړل، د نوموړي د لیکنې مېتود دومره راښکونکی او په زړه پورې دی چې لوستونکی هېڅ نه ستړی کوي.

باید وویل شي چې میا محمدعبدالغفور قاسمي د مولیٰنا کمال الدین حسین بن علي بیهقي چې په حسین واعظ کاشفي اوخار و؛ د کتاب نوم بدل نه کړ؛ بلکې انوار سهیلي د افغان پر ځمکه تلپاتی ژوند تر لاسه کړ، د پښتو انوار سهیلي څلورم چاپ چې د ښاغلي فضل ربي راهي په اهتمام تر سره شوی؛ »۴۳۲ «مخه لري او د دغه گټور کتاب انتساب د سوات مؤسس ارواښاد میاگل عبدالودود ته شوی دی، د دغه بارزښته اثر په څلورم مخ د غوره شاعر او نوموتي لیکوال ارواښاد رحیم شاه رحیم داسې نظر راغلی دی:

خزانه د معلوماتو دا کتاب دی
د عبرت او نصیحت یې هر یو باب دی
د حکمت ډکې خوږې کیسې دي ټولې
په کوزه کې یې بند کړی لوی دریاب دی

میا محمدعبدالغفور قاسمي د (د دغه کتاب اهمیت) تر سرلیک لاندې دا رنگ لیکي: ((د دغه کتاب دوه منځوی برخې دومره گټورې نه وې؛ نو څکه مې پرېښودې او پاتې څوارلس برخې مې په ساده ژبه وژباړلې)).

دلته د انوار سهیلي د حکایتونو له برخې یو حکایت گرانو لوستونکو ته د بېلگې په توگه وړاندې کېږي:

((پادشاه د فقیر دا عرضي قبوله کړه، د اس نه راکوز شو او د فقیر په خوا کې ښه په شوق کښېناست، فقیر د پادشاه سره یو ساعت خبرې اترې وکړې، پادشاه چې رخصتېدو؛ نو فقیر ورته عرض وکړ چې ای پادشاه! زه یو فقیر یم، ستا د مېلمستیا قابل سامان ما سره نشته، البته ماته د پلار نه یوه خزانه په میراث رسېدلې ده، په دې غار کې ښخه ده، زه فقیر به په دولت څه چل کوم، دا خزانه ستا لایق ده، ته یې واخله چې د خدای د مخلوق په فایده کې یې خرڅ کړې)).

## (۵) د کلیلې و دمنې ژباړه

هو!! د کلیلې و دمنې د پښتو ژباړو د نثر او نظم لړۍ همداسې غځېدا لري، تر دې دمه د کلیلې و دمنې وروستۍ ژباړه چې د پښتو نظم په جامه اوډل شوې؛ د ښاغلي تاج محمدخان زېب سر ده، دغه نوموتی لیکوال او غوره شاعر د پیرمحمدخان زوی، په »۱۲۹۱ هـ «د »چنداخوره «په سیمه، د سوات په لمنو کې دې نړۍ ته راغلی، د د سوات پادشاه جهانزېب له لوري د »سوات ادیب «د درناوي لقب اخیستی و، ښاغلی زېب سر د جهانزېب په دوره کې له کوچنۍ رتبې اخر د دهٔ تر سلاکارۍ رسېدلی دی، پښتو دیوان، د افغان زوال، دوه ټوکه، د قیامت نښې او اصطلاحات د نوموړي آثار دي چې چاپ شوي هم دي.

ښاغلی تاج محمدخان چې په زېب سر نوملی دی؛ یو د کلیلې و دمنې له ژباړونکو څخه دی چې د جهانزېب د پادشاهۍ په وخت یې په خوږه پښتو د مثنوي په قالب کې یې یاد کتاب ژباړلی دی؛ خو ډېر افسوس!! چې دغه قیمتي اثر د گرانو لوستونکو ته تر دې دمه د چاپ په بڼه نه دی رسېدلی، د ښاغلي استاد رفیع وینا ده چې: ((امکان لري چې ډېر ژر چاپ شي))، تر هغې چې د سوات ادیب دغه منظومه ژباړه چاپ شوې نه وي؛ تر هغه وخته دغه نالیدلې ژباړه اصلاً موږ بېخي پرتله کولی نه شو، گورو به چې د زېب سر دغه د کلیلې و دمنې ژباړه څوک د چاپ ډگر ته راوباسي؟

### لمنلیک

۱: سیال کاکړ تر دې دمه د کلیلې و دمنې پنځه پښتو ژباړن راپېژندلي، خو د دې تر څنگ صالح محمد زېري او په دې وروستیو کې څېړنوال مولوي زین الله منلي هم کلیله او دمنه په پښتو نثر ژباړلې چې له دې سره په پښتو ژبه کې د کلیلې و دمنې د ژباړو شمېر اووه کېږي، پورته یادې شوې دواړې ژباړې چاپ شوې هم دي. (ژباړن)

### مأخذونه

۱. شفق، رضا زاده. تاریخ ادبیات ایران، لومړی چاپ، انتشارات آهنگ: ارمان، تهران، ۱۳٦۹ل.
۲. انزابي، رضانژاد. د کلیلې و دمنې غورچاڼ، پنځم چاپ، تهران: ۱۳۸۰ هـ ش.
۳. بدخشاني، مرزا مقبول بېگ. ادب نامهٔ ایران، یونیورسټي بُک ایجنسي: اتحاد پریس، لاهور، نه لري.
۴. خان، شاد محمد. دبیر دانش، د انوار سهیلي منظومه ژباړه، پښتو اکاډمي، پېښور پوهنتون: ندیم یونس پرنټرز، ۱۹۹۳ ز.
۵. قاسمي، میا عبدالغفور. انوار سهیلي، شعیب سنز پبلشرز اینډ بُک سېلرز: سوات، حنیف اینډ سنز پرنټرز، لاهور، ۲۰۰۷ ز.
٦. حبیبي، عبدالحی. پښتانه شعراء، لومړی ټوک، پښتو ټولنه: کابل، ۱۳۲۰ هـ ش.
۷. خلیل، همېش. پښتانه لیکوال، ړومبی ټوک، همېش خلیل: پبلک آرټ پرېس پېښور، ۱۹۵۸ ز.

## کېنتو یا کېنتوز...

کېږي، خو په منځنیو بندونو کې دا ښه ضروري نه ده، تر دې چې قافیه یې هم بدلېدای شي، قافیوي جوړښت یې که په هر ډول وي، خو بنې به یې د مربع په-څېر ضرور څلور مسرې لري او د موضوع له مخې به یو منظم تسلسل لري. کېنتوز اصلاً د یوه نظم بېلابېلې ټوک - ټوک برخې دي چې سره یوځای شوې دي. بېلگه:

۱)دواړه چې یوځای شو
دواړه مېلمانه وو
دواړه یو تر بله
چپ په څنگانه وو
۲) آهم چرته نه وه
زه هم چرته نه وم
بېل په بېله بېرته
هېچرته څه نه وو
۳) آ بال بچې داره
زه بال بچې داره
ورک په ځان اخته وو
ورک په ژوندانه وو
۴) هجر که خفگان و
ورستو ترې خبر شوم
خپلو کښې هم مونږه
یو په بل درانه وو
۵) اوس چې مې ځیگر له
غاړه غتې راغله
دغه گرې څه ده
تېر وختونه څه وو
٦) نه ژړا نگولا کړم
نه راته گیلې کړې
اوس چې سره ښه یو
ورستو هم سره ښه وو (۷۴۳:۲)

### مأخذونه

۱- صدیقي، ابوالاعجاز حفیظ. کشاف تنقیدي اصطلاحات، دویم چاپ، اداره فروغ قومی زبان، اسلام اباد، ۲۰۱۸م.
۲- ازمون، لعل پاچا. پښتو نظم پوهنه، ختیځ خپرندویه ټولنه، جلال آباد، ۱۳۹۷ل.
۳- جمال، انور. ادبی اصطلاحات، (پنځم چاپ)، نیشنل بک فاونډېشن، اسلام اباد، ۲۰۱۹م.

# زېړی

علمي- څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

د ۱۴۰۴ ل.کال، د وږي میاشتې ۱۱- ۱۲مه گڼه | پرله پسې ۴۵۱- ۴۵۲ مه گڼه

**مسئول مدير:** څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورين

**مهتمم:** څېړندوی پښتون پښتون

**کمپوز او ډيزاين:** دوکتور خاورين

**کتنپلاوی:** اکاډميسين څېړنپوه دوکتور سيد محي الدين هاشمي، څېړنوال رحيم الله حريفال، څېړندوی احسان الحق کبير، څېړندوی مطيع الله ساحل

**برېښناليک:** zerai1316@asa.gov.af / zerai1316@gmail.com

**د اړيکې شمېرې:** ۷۸۰۸۳۱۹٦۰ (۰)(۹۳+)
۲۰۲۲۰۱۲۷۹ (۰)(۹۳+)

● په زېړي جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوی په ليکوالو پورې اړه لري.

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبياتو مرکز
څېړنيز ارگان

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، توره باس خان څلورلارې، نوی ښار کابل- افغانستان

**د يوې گڼې بيه:** پنځه افغانۍ


## د قلم ليک

پوهندوی دوکتور سيد اصغر هاشمي

يوه لويشت يم، خــــو لوی لوی کارونه کوم. زما په خوله کې قوت پروت دی. د نړۍ انسانانو ته تبليغ کوم او د دوی په تنوير کې مرسته. زما په رنگ کې ډېـــــــــــر زور دی او دا زور د هغو دی، چې خپل افکار زما په وسيله ليږدوي. زما رنگ پرمختلليو ټولنو کې نوي رنگونه راوړي، خو وروسته پاتې هېوادونه چې د ليک او لوست سره مينه نه لري، زما له رنگه گټه نه اخلي، نو ځکه په يو حـــــــال پاتې دي او يا ورځ تر بلې وروسته تگ کې دي. نوښت، اختراعات او کشفيات زما په وسيله له يو نسل بل نسل ته په ليکلي ډول پاتې شوي دي.

د نړۍ قلمي نسخو ته زما رنگ ژبه ورکړې ده. د پخوانيو خلکو افکار، دود، پرمختگ، پوهه او داسې نورو معلوماتو وړاندې کول زما په وسيله دي. زما »قلم «او کتاب سره مينه د دې لامل کېږي، چې پرمختگ منځ ته راځي.

کله کله زما له رنگه بده گټه اخيستل کېږي. بدې خوړونکی پرې بدې اخلي، ظالم قاضي پرې نا حقه پريکړه کوي، ډاکټران پرې تاريخ تيرې درمل ليکي، ښوونکي پرې ازموينه کې سمه پرېکړه نه کوي او داسې نور په لسگونو تيري، خو څه وکړم، چې زما د کارولو واک د انسانانو سره دی، خو د يوې خبرې يادونه اړينه ده، چې هر مامور، قاضي، ډاکټر او ښوونکی زما څخه ناوړه گټه نه اخلي.

کله چې زما د رنگه ناوړه گټه اخيستل کېږي، ژاړم، خو څوک يې نه اوري. دوی تيری کوي او ما د يوې وسيلې په ډول کاروي.

کله کله زما رنگ ځيني کسان خرڅوي او د پاک رنگ څخه مې ناوړه کار اخلي او چاپلوسي کوي. ښه مې په ياد دي، په عربي نړۍ کې د چاپلوسۍ لپاره قصيدي زما په رنگ ليکل کېدې. د سلطان محمود غزنوي په وخت کې درباري شاعرانو د درباريانو بې ځايه ستاينه هم زما په وسيله کوله.

د اروايي جگړې د وسيلې په ډول زما څخه گټه اخيستل کېږي. شخصيت وژنه زما په وسيله کېږي. زما څخه ښه او ناوړه گټه اخيستنه د انسانانو کار دی. که انسانان ښه وي، نو زما به سمه گټه واخلي او که انسانانو کې ستونزه وي، نو زما څخه به ناوړه گټه اخلي.

ستا په دربار کې هم ځينې داسې خلک شته، چې زما له رنگه ناوړه گټه اخلي او ستا چاپلوسي کوي.

زه له ډېرو خلکو خپه يم، ځکه چې زما په رنگ يې سترگې نه لگيږي. زما سره د دوستۍ پر ځای دښمني کوي، سره له دې چې زه له هر چا سره دوستي کوم او هېچا ته تاوان نه رسوم.

زما رنگ نه وچيږي. څومره چې له ما گټه اخلئ، په هماغه اندازه تازه کېږم، خو که کار را څخه وانه خيستل شي، وچيږم. زه د رنگه تور يم، د قلم په اوږدې نلکه کې مې زړه په تنگ دی. غواړم چې د هر چا کور ته ولاړ شم، د هر چا د فکر ژباړه وکړم، د افکارو تبادله وکړم، خلکو ته لارښوونه وکړم او بېلابېلې ستونزې اوارې کړم.

د فرانسې او ايټاليې اوښتون زما د رنگ په زور راغلی. په علومو کې د پرمختگ لامل زه يم. لويو پوهانو ته توان او شهرت زما رنگ ورکړی. د هغوی رنگ ته روښتيا ما ورکړې ده.

د نړۍ د لويو شاعرانو شعرونه زما په رنگ ليکل شوي دي. ډېرې ښې څېړنې او پنځونې زما د رنگونو رنگارنگي ده. اسماني کتابونه زما په رنگ وليکل شول، د نړۍ نامتو کتابونه زما په رنگ ليکل شوي. زما رنگ تور دی، خو کارونه سپين کوم او همدا اوس چې په کمپوټر کې ليکل کېږم، رنگ مې تور دی، خو د ليکنې پيغام مې انسانانو ته دی. شپه هم توره ده، خو د دمې لپاره خورا ښه وخت دی. سپوږمۍ په تياره کې پيدا کېږي او رنگ په اراوپوهنه کې تور ښه او غوره رنگ دی. اقتصاد، سياست، ښوونه او روزنه او نورو پوهنو ته پرمختگ زما په وسيله ورکړل شوی دی. ښه اقتصاد هغه ملکونه لري، چې زما د رنگ په قدر پوهېدل او سياسي ثبات هلته دی، چيرته چې زما په رنگ ليکل وشول، د هغه ټولنو خلک د اسلاميت او انسانيت پرگانه سمبال دي، چې زما په رنگ ککړ سپين مخونه يې ډير لوستي دي.

ډېر د کار خلک شته، چې د قلم په رنگ مين دي. دوی پيسې، وسيلې او يا د پوهې او خدمت کولو لپاره ځينې نورې ستونزې چې هيڅ اړينې نه دي، نه لري، نو ځکه په کور ناست دي. **پای**

## تېر کال ته يوه کتنه

څېړنوال رحيم الله حريفال

انساني فطرت تل د پرمختگ او لاسته راوړنو په لټه کې دی؛ غواړي، چې راتلونکی يې له حال نه غوره او بهتره وي او نړي، چې اوس د ژوندانه په مادي برخه کې څومره پرمختگ کړی او څومره لاسته راوړنې لري؛ دا د همدغه هڅاند انساني فطرت له برکته دی، لاهم ورځ تر بلې نړۍ د علم او ټکنالوژۍ په ډگر کې د پرمختگ لوري ته روانه ده.

نو کله ، چې موږ د کال د پای په شپو او ورځو کې قرار لرو او تر دې وروسته به نوی کال پيلوو، نو اړينه ده، چې د تېر کال ژوند او کړنو ته لږ پښه نيولي شو، که کومه د ياداشت کتابچه لرو، چې په هغې کې مو د تېر کال، موخې او کارونه ليکلي وي، ويې لولو؛ غور پرې وکړو، ويې ارزوو، چې د تېر يوه کال په موده کې ترسره شوي کارونه څومره بشپړ شوي دي او په کومه کچه نيمگړي پاتې دي او د همدغو موخو او هدفونو د ارزونې له مخې خپل تېر کال ارزيابي کولای شو، چې آيا په تېر کال کې بريالی وو او کنه؟ که په خپلو چارو، خپلو موخو او خپلو فعاليتونو کې بريالي وو، نو په کار ده، وړاندې له دې، چې د نوي کال د موخو او فعاليتونو لوري ته قدم واخلو؛ لومړی بايد د لوی الله ج شکر ادا کړو، چې موږ ته يې د دې توفيق او ځواک راکړ، چې خپلو موخو او اهدافو ته په بريالۍ توگه ورسېدو او که چېرې په خپل پلان کې پاتې راغلي وو، بيا هم ناهيلي نه شو؛ بلکې خپل کمزورې ټکي پيدا کړو او لاهم په پوره زغم او حوصلې سره د ژوند چارو او کارونو ته دوام ورکړو.

يوه خبره دلته د يادولو وړ ده، هغه دا، چې ماضي او تېر ژوند داسې دي، لکه: کله، چې موږ په موټر کې حرکت کوو او د موټر چلوونکي هم خپله يوو، نو که چېرې موږ د مخې د ښيښې پر ځای د څنگ په ښيښو کې خپل ذهن مصروف کړو، په دې صورت کې دا امکان سل په سلو کې دی، چې موټر به ټکر کوي او کېدای شي، چې موږ خپل ژوند هم له لاسه په کې ورکړو، نو د څنگ په ښيښو يوازې يو نظر اچول په کار دي، د مخې ښيښې ته پوره پام په کار دی، چې همدا د مخې ښيښه د حال يا اوس معنا ورکوي، چې اوس څنگه روان يم ؟ کومې خواته ځم ؟ او پر وړاندې مې کوم خنډونه او مشکلات پراته دي؟ او په تېر ژوند هم کله ـ کله لنډ نظر کول بسنه کوي، نو موږ هم بايد په تېر او ماضي کې ډېر بوخت او مصروف نه شوو، د تېر په ارمان او افسوس کولو خپل حال او راتلونکی خراب نه کړو، بلکې له تېرو تېروتنو څخه عبرت واخلوو، په راتلونکي کې يې بيا تکرار نه کړو، لا نور هم زحمت او کوشش وکړو، ځکه دا هڅه او هاند دی، چې انسانان يې د برياليتوب او سوکالۍ لوړو پوړيو ته رسولي دي، چېرته، چې زحمت او کوشش نه وي، هلته تشويش، انديښنې او کړاوونه موجود وي او د کومو ټولنو اوسېدونکي، چې زحمت باسي، کار کوي، نو هغوئ بيا د ډاډمن او سوکاله ژوند خاوندان وي. **پای**

## ځواکمن پاچا

رحيم الله بشارت

د لوړو شنو غرونو په منځ کې يو لوی ځنگل و. ځنگل ته له غرونو شنې چينې را بهېدې. په پراخو ورشو گانو کې شنو وښو او سرو گلونو يخې سيلې ته چپې وهلې. دنگې، لوړې ونې يې له رنگارنگه ميوو ډکې وې. په دې ځنگل کې د نورو ځنگلونو په څېر ډول ډول ژوي، لکه هوسۍ، غواگانې، پړانگان، سويې، شادوگانې او زمري اوسېدل. دې ټولو حيواناتو گډ ژوند کاوه. نو ددې لپاره چې ژوند يې په سوله او نظم کې تېرشي. يو مهربانه زمری چې شېرو نوم يې و، خپل پاچا ټاکلی و.

شېرو د ټولو ژوو پاچا و، ټولو يې درناوی کاوه. شېرو تر نورو زمريو زړور او پياوړی هم و، خو لويه ښېگڼه يې داوه چې ډېر مهربان او له مينې او اخلاصه ډک و. هيڅکله يې نه غوښتل په ځنگل کې څوک وځورېږي او يا يو پر بل زور، زياتی او ظلم وکړي. پاچا به هر وخت ټولو ته ويل ځنگل د ټولو گډ کور دی، نه زه او نه بل څوک حق لري چې په نورو ظلم او جبر او يا ورته ترخې خبرې وکړي.

پاچا په دې پوهېدو چې په گډ ژوند کې کله کله شخړې او ستونزې پېښيږي، خو د مشرانو دنده دا وي چې شخړې او ستونزې هوارې کړي. او له بده مرغه يوه ورځ همداسې وشول. د ځنگل د ځناورو ترمنځ شخړه پېښه شوه او دومره شور او چيغې يې جوړې کړې چې تابه فيل د سورلنډۍ په لکۍ پښه ايښې ده.

پاچا چې ددې شور ماشور او انگولا غږونه واورېدل، په منډه يې ځان د شخړې ځای ته ورساوه. لږه شېبه يې ټولو ته وکتل چې روغ وو، بيا يې په نرمۍ پوښتنه وکړه.

- څه پېښ شوي دي؟

- شادو وويل:

- سويانو زمونږ ميوې خوړلي دي.

- گېدړې رامنډه کړه.

- او د پړانگ د بام په سر يې ترپکې وهلي دي.

- پاچا ترې په موسکا پوښتنه وکړه.

- ته د پړانگ وکيل يې؟

- نه پاچا سلامت، خو د دوی ترپکو، د پړانگ خوب خراب کړ او پړانگ فکر وکړ چې ما ورته دربار کړې ده، نو ماته يې بده خبره وکړه. پاچا وپوښتل:

- څه يې درته وويل:

د گيدړې په سترگو کې اوښکې ډنډ شوې او زياته يې کړه:

- ويل يې، خپله له شيطانته خوب نه درځي او نورو له خوبه وباسې.

- سوی وويل:

- موږ پوهېدو چې دا د شادو مېوې دي، مونږ پيدا کړي دي، ښايسته وې، خوندورې راته ښکاره شوې نو ومو خوړې. وړې سوی وويل:

- مور راته ويلي وو چې له ښو خوړو وروسته تمرين کوئ، نو مونږ تمرين کولو، خو نه وو خبر چې پړانگ به په دې زېږې مازيگر هم ويده کېږي.

- پړانگ ولې دې له غور او پوښتنې پرته زر پرېکړه کړې چې گېدړه پړه ده.

- پړانگ وويل:

- هو پاچا سلامت، دا منم، چې پکاروه، لومړی مې حقيقت معلوم کړی وای او بيا مې پرېکړه کړې وای، خو په غاښ مې درد و، پوهه نشوم.

- غوا خاموشه ولاړه وه، بيا يې پيشو ته غټې غټې سترگې ور واړولې او په خپگان يې وويل:

- پيشو زما شيدې اړولې دي، او اوس مې خوسکی نهر دی.

پيشو بريتونه مړاوي کړل او وې ويل:

- زمانه غلطي شوې ده. بخښنه غواړم.

هوسۍ وويل:

- ښه چې پيشو خپله غلطي مني، نو زه به د غوا بچي ته لږې شيدې ورکړم چې موړ شي.

پاچا وويل راځئ ټول هوسۍ وستايو او لاسونه ورته وپړقوو.

ټولو لاسونه وپړقول.

بيا يې وويل:

- پيشو همد ستاينې وړ ده، ځکه چې خپله غلطي يې ومنله، تېروتنې له هرچا کېږي، خو لوړ اخلاق دا دي چې خپلې تېروتنې ومنې، داسې نه چې پرې منکر شې.

له دې سره پيشو سر ټيټه را اوچت کړ.

پاچا وويل:

په موږ الله جل جلاله ډېره لويه پېرزوينه کړې ده چې دومره ښکلی، شين او گڼ ځنگل يې راکړی دی. دا زموږ کور او وطن دی. مونږ ټول د دې ځنگل برخه يو، که مونږ له يو بل سره مرسته وکړو او له وړو تېروتنو ور تېر شو، ژوند به مو ارام، سوله يېز اوسوکاله شي. اوس نو داسې وکړئ، شادوگانو که تاسو خوږې مېوې لرلې نو له سويانو سره يې شريکوئ او سويانو تاسو چې له نورو څه اخلئ نو پوښتنه به ترې کوئ، او د چا د بلۍ په سر به تمرين نه کوئ. او پړانگ به چاته بدې خبرې نه کوي، ځکه چې اورېدلي مو دي کنه چې زمونږ يوه نيکه يو چاته ويلي وو، چې د تبر جوړ کړی پر هر رغيږي خو د ژبې جوړ کړی پرهر نه رغيږي. بدې خبرې او بې احترامي ډېره بده ده، او هېڅوک د چا د بې عزتۍ او سپکاوي حق نه لري.

ټولو ځناورو د پاچا خبرې ومنلې. د شخړې او شور ميدان ډېر زر د مينې او خندا په ډگر بدل شو.

له دې ورځې وروسته د شېرو مهربانۍ ټول ځناور خوشحاله کړل، که چا به مرستې ته اړتيا لرله، لومړی وروسه يو بل مرسته کوله او که د هغوی له وسه به پوره نه وه ، شېرو به يې مرستې ته ولاړو، ښتينې او د زړه خبرې به يې کولې، او دغه شين ځنگل د ټولو حيواناتو د مينې کور شو.

شېرو ته يې بوډا پلار دا خبره ډېره تکراروله چې: د ښتينې ځواکمن پاچا زور او قوت په پياوړتيا او زړورتوب کې نه بلکې په مهربانۍ او انصاف کې وي. **پای**


ZERAI
Afghanistan Sciences Academy (ASA)

**Editor - In - Chief:**
Associate Professor
Muhammad Ishaq Khawreen (Ph.D)

**Assistant:**
Assistant Professor Pashtoon Pashtoon

Compose & Layout Design:
Dr. Khawreen

**Address:** Center for Languages & Literature,
Institute of Pashto Language & Literature (ASA)
Shahr-e-Naw Kabul - Afghanistan
**Contacts:** (+93)(0)202201279/(+93)(0)780831960
**Email:** zerai1316@asa.gov.af/ zerai1316@gmail.com